# د امريکې د صدر د سعودي عرب دوره

# او د خليج اوسنے صورتحال

رحمت شاه سايل

د پښتو متل دے ,,چې د ګنجې وادۀ دے مولي وريږي،، د امريکې د صدر ټرمپ د سعودي عرب د دورې ډېر وخت نۀ دے شوے خو په دغه لږ وخت کښې صدر ټرمپ دغې ولاړو اوبو ته خدائې

قطر سفارتي عملې او قطر يا سعودي عرب کښې کارکنانو ته د ۴۸ ساعتونو الټي ميټم ورکړے شو. چې تاسو سعودي عرب پرېږدئ. کۀ چرې د ۸ جون د مشرق اخبار دغه خبر رښتيا وي نو صدر



خبر څنګه کانې ورګزار کړۀ چې هغه لا واپس رسېدلے هم نۀ ؤ اودلته په دغو اوبو کښې طوفاني لهرونه پيدا شول. د لمحو په حساب سعودي عرب د قطر سره سفارتي تعلقات ختم کړل. زمکنۍ لارې ئې بندې کړې. هوائي لارې بندې شوې. او د

ټرمپ په خپل ټويټر پېغام کښې وئيلي دي چې د قطر نه بائيکاټ زما د مشرق وسطي د دورې نتيجه ده.

دے وائي چې په دغه موقعه ما وئيلي وو چې د شدت پسندانه سوچ دپاره فنډنګ نۀ دے

پـکـار او پـه دغې موقعه موجودو د سعودي عرب سره د ۵۰ ملکونو مشرانو قطر طرفته اشاره کړې وه. زمـونږ شـاعـر څـه مـوده مخکښې په يو شعر کښې وئيلي وو چې:

پـه اعـجـاز د امـريـکې دې برکت وي
پـه قـلـم چې ئې ترل پـرانستل کېږي
شاعر

دغسې زر زر عـمـل خو مداريان هم نۀ شي کولے. ځيـنې خبـرو بـه کـلونه اخستل اوس خو لکه چې کـومـه آئيډيـالـوجي د پېدا کېدو نه مخکښې په عـمـل کښې راځـي. مونږ لا په دې خبره فکر کوو چې د امـريـکې صدر دا دوره په دې کښې د کومې نـوې آئيډيـالوجي پېش خيمه ده. کۀ هم د امن په نـوم د جـنـګ پـه روانـه لـمحه کښې د يو بل يا بل قسـم جنګ نوې بيانيه ده. ځکه چې دې تصوراتو تضادات هم لرل او لري نۀ وه چې دغه تضادات ډېر زر زر راښـکـاره هـم شـو. دا غـونډه د اسـلامـي ملکونو د اتحاد په نوم راجوړه شوې وه. خو دوه يا درې اسـلامـي ملکونه پکښې نۀ وو رابللے شوي. يـوازې دا نۀ بـلـکې سـعـودي عـرب د قرارداد پـه ذريـعـه ايران د دهشت ګردۍ علامت وښودلے شو. صـدر ټـرمپ پـه خپل خطاب کښې ايران د دهشت عـلامـت وګڼـلـو. او پـه دې حواله نۀ چاته د خبرو مـوقـعـه ورکړے شـوه او نۀ د پـوره اتـفـاق رائے څرګندونه وشوه. د قطر معامله کۀ دومره سنګينه

وه نو دا لکه د ايران په ډاګه ولې نۀ شوه.

ځـنيې خـلـق دې تـه ډرامه وائي. سوال دا دے چې کۀ دا ډرامه ده نو قطر هم د دې ډرامې برخه ده. کۀ بـرخـه ئې نۀ ده نو د دې ډرامې دپاره قطر د قـربـانـۍ ګډورے جـوړولے شـي. کۀ د قـربـانـۍ ګډورے تـرې نـه جـوړول وي نو دا کومـه د ګـېـتو بـدلـولـو لـوبـه خو نۀ ده. ډرامـه کۀ د جنګ شکل اخلي نو دا جنګ به چرته وي؟

عـقـل خـو دا وائي چې قطر نۀ افغانستان دے،نۀ عـراق دے او نۀ ليبيـا بـلـکې نۀ يوازې يو وړوکے مـلـک دے بلکې په اصل کښې د امريکې يـوه فـوځـي اډه هـم ده. د هغې په بندرګاه باندې د امـريـکې بـحـري بېړه د شلو ديرشو کالو نه ولاړه ده. دا هم وئيلے کېږي چې د هغې ځائې نه امريکې پـه پـاکسـتـان او افغانستان کښې ډرون حملې هم تل کړې دي. د قطر سره د امريکې رقابت څه دے. اګرچې په دې حواله ډېر سوالونه په ذهن کښې پېدا کېږي. خـو دا پـه اصـل کښې د نوۆ سرمـايـه دار مـلـکـونو دننه هغه د قومي برترۍ احساسات دي چې د مـودو مـودو نه موجود وو او اوس چونکې په دې وجـه سـر وهـي چې د هـغـوي مقتدر حالت ته خـطـره هم موجوده ده. او په دې وجه طاقت ئې هم پـه لاس کښې شتـه چې يو طرفته پېسه يا وسيله لـري. او بـل طـرفتـه د اسلامي امه په نوم يو بل طـاقت هم لري چې هغه په استعمال کښې راوستے

شي.

د امریکې مفادات په وسیع معنو کښې نور هر څه چې دي دا ئې فوري مفادات دي چې د هغوي د اسلحې مارکیټ پیدا کېدے شي. د ۳۸۰ ارب ډالرو اسلحه لا رارسېدلې هم ده او لګیا ده د جنګ فضا ئې جوړه کړې ده. یوه خبره بله هم کېدے شي چې کۀ دا د امریکې او سعودي عرب معاهده د امریکې د کانګرس د ممبرانو دننه کوم مشکل لري نو چې په هغې د قابو موندو دپاره د جنګ یوه فرضي فضا راجوړه کړي خو کۀ د دغسې کولو دپاره هم دغسې عرضي فضا هم راجوړه کړے شوه نو دغه جنګ یا دغه جنګي فضا به د دې ملکونو د امن دغه تسلسل نۀ یوازې مات کړي بلکې د نورې دنیا مفادات به هم دغلته نوي تیغي وکړي. او اوس نو د امن د تباهۍ دپاره چې د کومو خلقو او کومو اوزارو ضرورت دے هغه دواړه موجود دي صرف د پېسې ضرورت دے. او پېسې د دې ضرورت پوره کولو دپاره د ډېرو قوتونو سره موجودې دي. خو دا ډېره عجیبه ده چې دلته په دغسې بحران سوالونه راپورته کولے شي. بحثونه تبصرې او تجزیې پرې رواني دي او بل طرفته د ,,دي نیوز،، نه ابوالحسن امام د ډاکټر خلیل باسط یو مضمون ترجمه کړے دے په هغې کښې وائي چې شهزاده بن سلمان ته یقین دے چې د قطر په حواله به امریکه د هغه حمایت کوي. محمد بن سلمان د موجوده اختیاراتو او مستقبل کښې د بادشاهت دپاره د هغه خواهش دے چې هغه په خلیج کښې دغې اور له هوار ورکړي.

اخبار وائي چې ډونلډ ټرمپ د سعودي عرب په دوره کښې یو لوئې جعلي خبر وچلوؤ. د دغې جعلي خبر حال د امریکې د سیکورټۍ، جنوبي ایشیاء د دهشت ګردۍ د قابو کولو د امورو امریکي ماهر بروس ریډل مطابق د ټرمپ د سعودي عرب د دورې په دوران کښې د سعودي عرب او امریکې ترمېنځه د ۱۱۰ ارب ډالرو د دفاعي لوظنامې خبر دروغ دي.

بروس ریډل د بروکنګز انسټي ټیوټ دپاره په خپل لیکلي مضمون کښې واضحه کړې ده چې د سعودي عرب او امریکې ترمنځه کومه نوې دفاعي لوظنامه نۀ ده شوې. بلکې د دفاع صنعت او د امریکې د پارلیمنټ دننه څه دوستانو ماته ووې چې دا هر څه لیټر آف انټرس دي. کۀ چرې څه لوظنامه شوے وے نو هغه به ئې د سینټ کمیټۍ ته د جائزې دپاره لېږلے وے. د دې نه علاوه د سعودي عرب د طرف نه چې د کومو وسلو د اخستو خبره کېږي هغه د اوباما د دور خبره ده چې تراوسه په هغې هم کوم کوټلے پېش رفت نۀ دے شوے. په ۲۰۱۵ کښې د کیمپ ډیوډ سره په ملاقات کښې هم د دې لوظنامو ذکر ؤ. خو تکمیل

ته ونۀ رسېدے شو.

د دې نه علاوه بروس ریډل د خپل موقف د حمایت دپاره په خپل مضمون کښې یو بل دلیل دا پېش کړے دے چې کۀ چرې د سعودي عرب سره دغسې کوم ډیل په حقیقت کښې شوے وے نو امریکې به اسرائیل ته هم د دې د زیات بهتر ډیل پېش کش کړے ؤ. چې اسرائیل ته په خپلو عربي ګاونډیانو په هر حال کښې د برترۍ احساس کېدلے.

د اوباما په اته کاله دوره کښې سعودي عرب د ۱۰۱۲ارب ډالرو وسله د امریکې نه اخستې ده. چې په هغې کښې د ټولو نه لوئې ډیل د ۲۰۱۲ والا ؤ. خو دغه ډیل د کانګرس نه د منظورۍ دپاره د هغې وخت وزیر دفاع باب ګېټس د اسرائیل د غریو تختولو دپاره هغوي د دې نه په لوئې ډیل مجبور شوي وو.

کالم لیکونکے وائي چې د ریاض د سربراهي کانفرنس یوازینۍ نتیجه په خلیجي ملکونو کښې بې اتفاقي پېدا کول وو. دا بې اتفاقي بې شکه په اول ځل نۀ پېدا کېږي لېکن دا ځل به د دې نتیجې د فرقه وارانه او سیاسي لحاظه زیاتې سنګینې وي. دے مخکښې وائي چې د بروس ریډل دا خبره سل په سل درسته ده چې د سعودي عرب او امریکې د دې ډیل د دې خبرو نه ایران سخت په مشکل کښې نخښتے دے او په خطه کښې تاؤتریخوالے سېوا شوے دے.

دویم جعلي خبر د قطر د سرکاري خبر ایجنسۍ په ویب سائټ په مبینه طور هیک کړو خور ئې کړو. د قطر په سرکاري ایجنسۍ کیو،این اے د قطر د امیر په نوم داسې بیانونه جاري کړل کوم چې د هیڅ یو خلیجي ریاست هیڅ یو امیر نۀ شي ورکولے. مثلاً د قطر د امیر سره تړلے دا بیان چې د دوحا د واشنګټن سره تعلقات خراب دي او ایران یو اسلامي قوت دے. د ایران سره دشمني د عقل مندۍ خبره نۀ ده. او ټرمپ په خپل ملک کښې د قانوني مشکلاتو سره مخ دے. د دې قسم خبرونو په اشاعت قطر ډېر وضاحتونه وکړل. خو سعودي عرب الجزیره ټي وي د خپل بادشاهت دپاره خطره ګڼي. نو د مصر السیسي امیر او قطر ته د اخوان المسلیمین په حمایت سزا ورکول غواړي. د دې دوو عربو طاقتونو په منشاء کښې د باقي عربو بقاء ده.

دلته نور ډېر سوالونه پېدا کېږي چې د ,,بروس ریډل،، په خیال کۀ داسې کومه لوظنامه حتمي نتیجې ته لا نۀ ده رسېدلې نو د دې نه د سعودي بادشاه او نور د سعودي عرب د لوړو چوکو چارواکي ولې بې خبره وے. یا بې خبره دي. چې هغوي په یک جمبش قلم د قطر سره خپله سفارتي وابستګي غوڅه کړه. او دوي ولې په بې خبرۍ کښې دومره لوئې ګام واخستو چې نۀ

یـوازې نور څو عرب ملکونه په دغو روابطو کولو کښې ورسره شریک شـو. بلکې د امریکې صدر ئې هم مرسته ملګرتیا وکړه.

دویـم سـوال دا کېدے شي چې کوم تصور چې د اسـلامـي مـلـکـونو د اتحاد دپاره پېدا کړے شوے ؤ هغه په دغسې کولو د څه دپاره زایل کړے شو او ولې؟؟؟؟؟

دریـــم دا چې کۀ قـطـر د دوي پـــه خیـال د دهشت ګردو مرسته کوله نو دا هم دوي ته په دغه وخـت پتـه ولګېـده چې د مسـلم ملکونو دپاره یو دغسې عـمل کېږي او هغې ته د امریکې صدر هم راغوښتے کېږي.

څـلورم سوال دا دے چې کۀ سعودي عرب د الجزیره په حواله د قطر نه کوم غریبو لره په مرۍ کښې نـو او لکه چې ځینې تجزیه کاران وائي چې دوي قطر لړ ځائې له راولي. نو د جنګ دغه شغلې کۀ یـو ځـل پـورتـــه شي نو د امریکې نـه اخستې اسـلـحه خو د اسلحې کار کولے شي د جنګ بندۍ کــار خـو بـــه د امریکې پـه لاس کښې وي. آیـا د سـعـودي عرب نه هېر دي چې صدام حسین ئې په کـویـت ور واچـوو او بیا ئې ترې په زور رابهر هم کړو او کۀ چـرتـه چـرتـه ئې د حکم نافرمانۍ کړې وې نـو د هـغې سـزا ئې هم ورکړه. او د ملک خلق ئې تراوسه اوسه د هغې سزا تېروي.

یـو وړوکـے صـنـمـي سوال دا هم دے چې سـعـودي عرب واقعي د دهشت خورولو د خلقو نه لاس اخلي کنه چرته یوه رویه او چرته بله رویه ئې هغسې د سیاست برخه او لار ده.

اوس دا خبـره هـر څـوک مـنـي چې پـــه مسـلـمـان ملکونو کښې انتشار موجود دے. او اسلامي دنیا کښې کۀ لاقلاره قلاري ده نو هغه هم دغـه څو ملکونه وو. چې پکښې سعودي عرب هم شـامـل دے. دغـلتـه کۀ چـرته د چا مستقبل هم د قـلاره قـلارۍ د ضـمـانت سره ژوند کوي هغه یو اسرائیل کېدے شي. کۀ چرې دا شخړه په سفارتي بـنیادونو آرام نۀ کړے شوه او خبره تاوتریخوالي تــه لاړه نـو هـغـه د پښتو د یو شاعر نیم بیت دے چې: ,, آم بائیلې د امرود په ترازه،،

دلتـه بې شـکه ځینې تنازعات موجود وو خـو اظهـار ئې لـکه چې په ړومبي ځل کېږي. او د فکر خبره دا ده چې د جنګ جنګ په ژبه کېږي او د سـفارتي کوششونو نه مخکښې مخکښې پکښې صف بـنـدۍ هـم پـه نـظر راځي. دا صورت حال د عـراق او کـویت د ړومبۍ جګړې د تصور نه زیات خطرناک په دې دے چې دا د اولې ورځې نه لکه په فـریـقینو کښې د صف بندیو نشان دهي کوي. هر شـے چې پېدا کېږي وړوکے وي. غم چې پېدا شي د اولې ورځې نـــه لـوئې وي. د دې ورانې تـصور او تصویر د اولې ورځې نه لوئې ښکاري. خدائې دې وکړي چې خبرې په سفارتي سطح هوارې شي.

☆☆☆